# کانکور ازموینه، ستونزې او حل لارې

**پوهندوی عبدالرحمن عثماني**

زولوژي څانګه، د بیولوژي پوهـــــنځی، د کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: aosmani.ku@gmail.com

**لنډیز**

کانکور ازموینه چې له ۱۳۴۰هـ.ل راهیسې د هېواد په کچه، د دولسمو ټولګیو له فارغانو اخیستل کېږي، په دې وروستیو کې یې د ښه والي او روڼتیا په موخه رغنده ګامونه پورته شوي، خو لا هم یو لړ ستونزې لري چې باید څرګندې او حل لارې یې په ګوته شي. دا څېړنه په همدې موخه؛ د ازموینو ملي اداره او کابل پوهنتون کې په سیمه‌ییز میتود سره شوې، اطلاعات یې د پوښتنلیک په مټ را غونډ او په کیفي ډول تحلیل شوي دي. د څېړنې پایلې ښيي چې د کانکور ازموینې عمومي والی، د پوښتنو د کیفیت ټیټوالی، د ښوونیز نصاب د یو شمېر مضمونونو د پوښتنو نشت، د پوښتنو د شمېر زیاتوالی، د وخت کمی او تخنیکي ستونزې، د کانکور ازموینې بنسټي ستونزې دي، چې د حل په موخه یې کانکور ازموینه باید په ټولنیزو او ساینسي برخو وویشل شي، د تعلیمي نصاب ټول مضمونونه پکې ځای شي، د پوښتنو شمېر یې کم او وخت یې زیات شي او د ازموینو بهیر د لا ښه والي لپاره اړین تقنیني اسناد تدوین او د ازموینو سیستم پر نویو تخنیکي وسایلو سمبال شي.

**کلیدي اصطلاحات:** کانکور ازموینه؛ د پوښتنو کیفیت؛ ښوونیز نصاب؛ روڼتیا؛ تقنیني اسناد

# Konkor Exam, Its Problems & Solutions

**Assistant Prof. Abdul Rahman Osmani**

Department of Zoology, Faculty of Biology, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: aosmani.ku@gmail.com

**Abstract**

Since 1962, the university entrance examination has been administered to high school graduates nationwide. Recent efforts have been made to enhance its transparency and effectiveness, yet it grapples with a range of persistent challenges that require explicit identification and resolution. This study was conducted to address these issues. Data were collected from the National Examination Authority and Kabul University through a questionnaire, and qualitative analysis was applied to the gathered information. The research findings highlight several fundamental problems associated with the entrance examination, including its broad scope, the quality of questions, gaps in subject coverage aligned with the educational curriculum, an excessive number of questions, time constraints during the exam, and technical obstacles. To facilitate these challenges, several recommendations are proposed. These include restructuring the entrance examination into distinct Social and Natural Science sections, ensuring comprehensive coverage of all subjects in the educational curriculum, reducing the number of questions, extending the exam duration, and establishing the necessary legislative framework for ongoing improvement.

**Keywords:** Konkor Exam; Quality of Questions; Educational Curriculum; Transparence; Legislative Documents

## سریزه

کانکور ازموینه چې په ټول هېواد کې د دولسمو ټولګیو له فارغانو اخیستل کېږي، له هغو ملي پروسو څخه ګڼل کېږي، چې له څو کلونو راهیسې پکې پاموړ شفافیت رامنځ ته شوی او تر ډېره پکې د فساد مخه نیول شوې ده، خو ځینې برخې یې لا هم له ستونزو او ننګونو سره مخ دي، د دې لپاره چې ازموینې د شفافیت ترڅنګه له اغېزمنتیا څخه برخمنې شي او د ګډوډوالو لپاره لا ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته شي، نو پکار ده چې په اړه یې یوه علمي څېړنه ترسره شي، چې په همدې موخه نوموړې څېړنه په پام کې نیول شوې. دا څېړنه چې د کانکور په اړه پکې هر اړخیز اطلاعات راټول شوي دي، د کانکور ازموینو ستونزې او ننګونې به څرګندې کړي. په دې څېړنه کې د ستونزو د له منځه وړلو او د کانکور ازموینو د کیفیت د لوړولو لپاره په اړینو حل لارو هم غور کېږي چې اړوند مسؤلینو او بنسټونو ته به د کانکور ازموینو د ښه والي لپاره د ګټورو طرحو د وړاندې کولو او اړینو بدلونونو د راوستلو لپاره لاره هواره کړي. باوري یم چې دا څېړنه به د کانکور د ستونزو په له منځه وړلو کې اغېزناکې پایلې وړاندې کړي.

## ازموینه او ارزونه

که د ازموینو تاریخي بهیر ته لنډه کتنه وکړو، ویلای شو چې ازموینه اوږد تاریخ لري. له رسمي زده کړو مخکې، ازموینې په تقریري ډول وې. د رسمي تعلیماتو او زده کړو له پیل سره، رسمي ازموینه پیل شوه. په نولسمه پېړۍ کې لیکنۍ ازموینې د شفاهي ازموینې ځای و نیو. لومړنۍ لیکنۍ ازموینه پر ۱۸۵۰ کال په امریکا کې واخیستل شوه. په ۱۹۵۵ میلادي کال عیني ازموینه رامنځته شوه. د روزنیزې ارواپوهنې په رامنځته کېدا، ازموینو پرمختګ وکړ او د ازموینو په واسطه ذکي، متوسط او ضعیف زده‌کوونکي مشخص شول او ځانګړو ټولګیو ته وروپېژندل شول(رؤف، 1382).

روزنیزه ارزونه؛ د روزنیزو علومو یوه ځوانه تخصصي څانګه ده چې اوسمهال د پوخوالي عمر ته رسېدلې ده، دغې څانګې په (۱۳۴۰ هـ.ش- ۱۹۶۰ م) لسیزه کې د ماشومتوب دوره تېره کړه، په (۱۳۵۰ هـ.ش- ۱۹۷۰ م) لسیزه کې بلوغ ته ورسېده او په (۱۳۶۰ هـ.ش- ۱۹۸۰) لسیزه کې یې پاموړ وده او پرمختګ وکړ. د یویشتمې میلادي پېړۍ په درشل کې روزنیزې ارزونې او ازموینو، د ښوونیزو–تحصیلي نظامونو د کیفیت په لوړوالي کې پاموړ رول و لوباوه (بازرګان، ۱۳۹۵).

ارزونه د یو شي د ارزښت(value) موندلو یا د ارزښت په اړه قضاوت (value judgement) ته وایي. په اصطلاح کې ارزونه د اطلاعاتو او معلوماتو د را ټولونې، تحلیل او تفسیر یو منظم بهیر ته وایي، په ټوله کې، د یوې موضوع، شي او فرد په اړه د قضاوت (پرېکړې) او تصمیم نیونې په موخه په منظم ډول د

اطلاعاتو ثبت، تحلیل او تفسیر دی (بازرگان و فراستخوا، ۱۳۹۶). ازموینه بیا هغه پوښتنې دي چې زده کوونکیو ته د ځوابونې لپاره ورکول کیږي (خپلواک، ۱۳۹۸).

ارزونه چې په هر موقعیت او ځای کې ترسره کیږي، د یوه ارزښتي قضاوت سره مله وي او په ښوونه او روزنه کې باید دغه ارزونه د عیني اطلاعاتو پر بنسټ ترسره شي (لطف آبادي، ۱۳۷۵).

د زده کوونکو د تعلیمي – تحصیلي پرمختګ اندازه کولو وسیلی (ازموینې ـ پوښتنې) په ټوله کې په دوه ډوله دي: لومړی، د ښوونکي لخوا جوړې شوې پوښتنې یا ازموینه. دویم، معیاري یا سټنډرډ پوښتنې یا ازموینه. د ښوونکي لخوا جوړې شوې پوښتنې یا ازموینې هغه پوښتنې او ازموینې دي چې ښوونکی/ استاد یې د خپلو زده کوونکو د ښوونیز پرمختګ لپاره جوړوي او د ښوونیزو دورو په اوږدو یا پای کې یې له خپلو زده کوونکو اخلي، دا پوښتنې د دقیقو موخو پر اساس د زده کوونکو د بری د اندازه کولو لپاره چمتو کیږي؛ نو د دې پوښتنو په جوړولو او لیکلو کې باید له پوره غور څخه کار واخیستل شي، چې په زده کړه ییزو پربکړو کې له پوره ارزښت څخه برخمنې وي. د دې په وړاندې معیاري یا سټنډرډ پوښتنې- ازموینې دي او هغه پوښتنې – ازموینې دي چې د ازموینو اخیستلو دولتي یا نادولتي ادارو، مؤسسو، ښوونیزو او علمي مرکزونو لخوا د لوی شمېر ګډونوالو (زده کوونکو) د زده کړې د پرمختګ، عقل، استعداد او شخصیت د کچې معلومولو لپاره جوړېږي او ازموینه‌یې اخیستل کېږي لکه کانکور ازموینه (خپلواک، ۱۳۹۸).

هوګان (۲۰۰۷) د سټنډرډ ازموینې په اړه وایي: په پیل کې د سټنډرډ اصطلاح د امتحان اخیستلو او د نمرو ورکولو په یو شان طریقو تاکید کوي، په‌دې معنا چې امتحان په ټولو حالاتو کې باید د ټاکل شویو طریقو پر اساس واخیستل شي او نمرې هم باید له وړاندې ټاکل شویو قوانینو او اصولو په رڼا کې ورکړل شي. بل دا چې امتحان باید د برابرۍ (انډول) لرونکی وي، چې په اصل کې د برابرۍ په پامنیوي د امتحان اخیستلو ته سټنډرډ کول وایي (خپلواک، ۱۴۰۰).

**کانکور ازموینه**

کانکــور اصلاً له یوې فرانسوي کلیمې (Concours) څخه اخیستل شوی چـــــې معنی یې د ارزونه یا ازموینه ده او معمــولاً له هغو زده کوونکو څخه اخیستل کیــږي چــــې له دولسم ټولګــي څخه فارغ وي او پوهنتـــــونونو ته ازموینه ورکوي چــې په ایران، تــرکیه، چیــن او ځینې نورو هېوادونو کــــې اخیستل کېـــږي (https://abadis.ir/fatofa). همـــداراز کـــانکور (Concours)، د ( A Public Competition) یعنې عمومي ســـیالی په معنی هـــــم راغلی (https://www.merriam-webster.com/dictionary/concours).

کانکور ازموینه په ایران کې د علومو وزارت له لوري په لومړي ځل په ۱۳۴۸ کال کې واخیستل شوه، په دغه ازموینه کې ۴۷۷۰۳ کسانو ګډون کړی و او پوښتنې یې په لنډ ډول جوړې شوې وې (https://fa.wikipedia.org).

د نړۍ په ځینو هېوادونو کې اوسمهال د کانکور ازموینه له منځه تللې ده، ولې بیاهم په یو شمېر هېوادونو کې اخیستل کېږي، خو هر کال پکې د معیارونو په پامنیوي بدلونونه راځي. د بېلګې په توګه په ترکیه کې د کانکور ازموینو لپاره د پوهنتونونو له لوري مضامین د مضمونونو مهمې برخې او د پوښتنو شمېر په ګوته کېږي (https://fanarstudy.com/en/blog/university-entrance-exams-in-turkey).

افغانستان ته د کانکور طرح لومړی ځل په ۱۳۴۰ هـ.ش کال کې د کابل پوهنتون د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځي استاد عطاءالله رؤف لخوا له امریکا څخه کابل ته راوړل شوه او د ازموینو لپاره یوه کمیټه جوړه شوه، چې مرکزیې د کابل پوهنتون مرکزي کتابتون و. د وخت په تېرېدو سره د ازموینې د ګډونوالو شمېر زیات شو، نو ځکه نوموړې کمیټه امریت ته لوړه او له کابل پوهنتون څخه د لوړو زده کړو وزارت ته ولېږدول شوه، چې د ګډونوالو په زیاتېدو سره له آمریت څخه ریاست ته لوړه شوه. په ۱۳۹۷ کال کې د ازموینو ملي ادارې په نامه د یوې خپلواکې ادارې په توګه رامنځته شوه چې اوسمهال په ټول هېواد کې د دولسمو ټولګیو پر فارغانو سربېره د څورلسم پاسانو، طبي شورا اګزیت ازموینه، د لوړو زده کړو وزارت د کادري روغتونونو د تخصص لپاره، عامې روغتیا وزارت لپاره د تخصص د بشپړاوي، د پولیسو اکاډمي، دفاعي پوهنتون، طبي انستیتیوټونو او د علماو د سویې د تثبیت ازموینې اخلي (www.nexa.gov.af).

**د کانکور اوسني وضعیت ته لنډه کتنه**

د دولسمو ټولګیو د زده کوونکو کانکور ازموینه د پوهنې وزارت د لسم، یوولسم او دولسم ټولګي، د لسو مضمونونو (ریاضي، فزیک، کیمیا، بیولوژي، تاریخ، جغرافیه، دیني علوم، پښتو، دري او جیولوجي) څخه اخیستل کېږي. ازموینه ۱۶۰ پوښتنې لري؛ چې ۴۳ یوازې د ریاضي برخې، ۴۲ پوښتنې د طبیعي علومو له برخي، ۳۹ پوښتنې د ټولنیزو او دیني علومو له برخې او ۳۶ پوښتنې د پښتو، دري او جیولوجي اړوند دي.

د کانکور ازموینه کې د ګډون لپاره دوه شرطونه( تذکره او د دولسم ټولګي شهادتنامه) په پام کې نیول شوي دي.

د کانکور ازموینې بهیر د هغو فورمونو په ډکولو سره پیلېږي چې د ازموینو ملي اداري د انسجام ریاست لخوا دهېواد ټولو ښوونځیو ته لېږل کېږي، د دولسمو ټولګیو د فارغانو لخوا تر ډکېدو وروسته دغه

فورمې د ښوونځي او اړونده ولایت د پوهنې ریاست له لوري له تایید او په رسمي توګه د ازموینو ملي ادارې ته لیږل کیږي او د تخنیکي خدماتو ریاست د انټري ځانګې لخو تر ثبت کېدو وروسته د ازموینې هر ګډونوال ته په سیستم کې ځانګړې (ID) جوړیږي، په همدې ID سره د ګډونوال لپاره کارت، پوښتنپاڼه، او د ځوابونو پاڼه چاپ او له ازموینې مخکې ورته کارت او د ځانګو د کوډونو پاڼې ورکول کیږي او بیا بایومتریک کیږي.

د ازموینې پوښتنپاڼې د ازموینو ملي ادارې په چاپخونه کې چاپ او د ګډونوالو له ID سره سم په صندوقونو کې په محرم ډول د استخباراتو د غړي په شتون کې ولایتونو ته استول کیږي. په ولایتونو او مرکز کې مهر شوي صندوقونه د چارواکو له لوري پرانیستل کیږي او ازموینه په رسمي توګه پیلیږي. د مرکز ازموینې په کابل، طبي، پولي تخنیک او ښوونې و روزنې په پوهنتونونو کې د کانکور ادارې او د نوموړیو پوهنتونونو د استادانو او په ولایتونو کې د کانکور ادارې او اړوندو پوهنتونونو د استادانو لخوا اخیستل کیږي (مقرره کانکور- وزارت تحصیلات عالی، ۱۳۹۶).

د افغانستان په کانکور ازموینه کې ټولې پوښتنې څلور ځوابه راځي؛ په داسې حال کې څلور ځوابه پوښتنې د زده کړې ترټولو ټیټه کچه اندازه کوي. په دې اړه، ښوونیز کارپوهان په دې ټینګار کوي چې د سنجش او ارزونې مېتودونه او وسیلې(پوښتنې) باید په داسې ډول جوړې او وکارول شي چې درک او پوهېدا، د مسئلې حل، استدلال، تفکر او د زده کړل شویو مواردو کارونه په واقعي ژوند کې و ارزوي (سیف، ۱۳۹۴).

## څېړندود

دا څېړنه یوه توصیفي- تحلیلي څېړنه ده چې په ساحوي توګه ترسره شوې او اطلاعات یې د ازموینو ملي ادارې له مسؤلینو او د کابل، پولي تخنیک، طبي، ښوونې و روزنې پوهنتونونو له استادانو سره د مرکو پر بنسټ راټول شوي. د دې لپاره چې د کانکور ازموینې په اړه ټول استادان هر اړخیز معلومات نلري، نو د بیلګې لپاره له کوم فارمول څخه استفاده نه ده شوې او په غیر تصادفي توګه له هغو پنځوسو تنو مسؤلینو او استادانو څخه اطلاعات تر لاسه شوي چې د کانکور په اداره کې یې دندې ترسره کړې دي او یا اوس هم دندې لري. د مرکو پر بنسټ را غونډ شوي اطلاعات په کیفي توګه تحلیل شوي دي؛ د هرې پوښتنې د ځوابونو د لا روښانتیا په موخه له ډیاګرامونو هم ګټه اخیستل شوې او په پای کې یې د هرې پوښتنې ځوابونه تحلیل شوي دي.

**د څېړنې موندنې**

دا څېړنه چې اطلاعات یې د مرکو پربنسټ راټول شوي، په کیفي توګه تحلیل شوي چې د هرې پوښتنې د ځوابونو تحلیل یې په دې ډول ښودل کېږي؛

**د کانکور علمي ستونزې**

1. د کانکور ازموینو ځینې پوښتنې له یو بل سره ډېر لږ توپیر لري او ځینې مهال په یوه فورم کې دا ډول ځو پوښتنې راځي، خو په بل فورم کې بیا دا ډول پوښتنې نه راځي چې دا توپیر شفافیت ګواښي او په ازموینو کې د عدالت مخه نیسي.
2. د پوښتنو په جوړولو کې کیفیت د کمیت قرباني دی، تر ډېره یې شمېر ته پام کېږي، نه کیفیت ته، حتی داسې پوښتنې جوړېږي چې په هغې سره زده کوونکي په سمه توګه نه ارزیابي کېږي. د اکثرو پوښتنو ځوابونو څخه بیا پوښتنې جوړې شوې، چې دې کار هم د پوښتنو کیفیت خراب کړی دی، د ځینو پوښتنو ځوابونه له یو بل سره ډېر نژدې او یا ډېر لرې وي او حتی ځینې ځوابونه له پوښتنې سره هم یو ډول علمي او منطقي تړاو نه لري.
3. په پوهنتونونو کې ډېر مهم پوهنځي دي، خو له اړوندو مضمونونو څخه یې په کانکور کې یوه پوښتنه هم نه راځي، مثلا زیاتره محصلین اقتصاد پوهنځی انتخابوي، خو په کانکور کې د اقتصاد مضمون څخه یوه پوښتنه هم نه راځي، همدې ته ورته زراعت پوهنځی چې خورا زیات ارزښت لري خو په کانکور کې یې یوه پوښتنه هم نه راځي، همدا ډول د حقوق او کمپیوټر ساینس یادونه کولای شو چې په کانکور کې یې اړوندې پوښتنې ځای نلري.
4. د کانکور پوښتنې میخانیکي زده کړې ته اړتیا لري، کوم کورسونه چې فعلا د کانکور د چمتوالي لپاره جوړ شوي دي، یوازې د فورمونو حلول زده کوونکو ته ښیي، په کانکور کې لوړې نمرې اخلي، خو په علمي لحاظ د زده کوونکي سویه ټیټه وي. یعنې یوازې ګټه‌یې په میخانیکي لحاظ ده او د منځپانګې له پلوه کوم اغېز نه لري، دا هغه څه دي چې د وخت په تېرېدو سره د زده کوونکیو او محصلینو علمي سویه را ټیټوي، چې منفي اغېزې یې عملا د هېواد په پوهنتونونو کې لیدل کېږي.

**د کانکور تخنیکي ستونزې**

1. د کانکور اداره معیاري سرورونه نلري.
2. د سیستم انحصار؛ کوډ (Source Code) د بهرنۍ کمپنۍ په واک کې دی.
3. د سیستم او شبکې لپاره د امنیت لازم تدابیر په پام کې نه دي نیول شوي، چې معلومه شي یو محصل څو ځلې امتحان ورکړی دی.

4. کانکور پرمختللي تخنیکي وسایل نلري.

**د کانکور تقنیني ستونزې**

د ازموینو ملي اداره په ۱۳۹۷ کال کې له لوړو زده کړو وزارت څخه بېله او د یوې خپلواکې ادارې په توګه رامنځته شوه، خو تر دې مهاله قانون نلري، خپلې چارې د لوړو زده کړو وزارت د قانون پر بنسټ د کانکور د مقررې له مخې پر مخ وړي چې اوس مهال د ازموینو ملي ادارې غوښتنو او اړتیاوو ته ځواب ویونکې نه ده.

**د کانکور ازموینو د ښه والي او کیفیت لوړولو په موخه کومې چارې باید ترسره شي؟**

د کانکور ازموینو د ښه والي په موخه تر ټولو لومړی باید ساینسي او ټولنیزې برخې له یو بل څخه جلا شي، د کانکور ګڼ شمېر ګډونوال چې په ریاضي او ساینسي علومو کې خورا زیات مهارت لري، خو د ادبیاتو، تاریخ، جغرافیې، جیولوجي او نورو مضمونونو د پوښتنو د نه حلولو په صورت کې په کانکور کې ناکامیږي او عیناً ګڼ شمېر نور ګډونوال چې په دیني او ټولنیزو علومو کې خورا زیات مهارت لري، د ریاضي، فزیک، کیمیا او بیولوژي مضمون د پوښتنو د نه حل کولو په صورت کې په کانکور کې نه بریالي کېږي، نو پکار ده چې د کانکور ازموینه پر دوو برخو (ساینسي او ټولنیزو علومو) وویشل شي، په داسې ډول چې ۷۵ سلنه پوښتنې تخصصي او ۲۵ سلنه یې غیر تخصصي په پام کې ونیول شي، چې د کانکور ټول ګډونوال د خپلې خوښې پوهنځیو ته بریالي شي او په خپله برخه کې پاموړ پرمختګ وکړي، د کانکور اداره باید پرمختللي ټکنالوجیک وسایل ولري، چې د بهرنیو مؤسساتو له انحصار څخه خلاصه او خپلې ستونزې په اسانۍ سره حل کړای شي. بایومټریک سیسټم د محصلینو له سیسټم سره نه دی نښتې، باید ونښلول شي او همدارنګه باید د ماشینونو (Maintenance) په ټاکلې وخت وشي، چې د ازموینې پرمهال ګډونوال د کومې ستونزې سره مخ نشي.

د سرورونو او OMR ماشینونو لپاره معیاري خونې نشته، باید معیاري خونې ورته جوړې شي. د انلاین ازموینو لپاره اړین امکانات نشته، باید پوره پاملرنه ورته وشي او ټولې اړینې اسانتیاوې ورته رامنځته شي. نوي مضامین باید کانکور کې شامل شي، چې د څومره والي (کمیت) قرباني شوی څرنګوالی (کیفیت) بېرته خپل حالت ته راوګرځي، د مثال په توګه د کرنې، اقتصاد او نورو پوهنځیو اړوند مضمونونه باید په کانکور کې ځای شي او هغه پوهنځی چې انګریزي ژبې ته پکې زیاته اړتیا وي، د انګریزي پوښتنې یې باید په ازموینه کې شاملې شي او د شرعیاتو پوهنځی او اسلامي تعلیماتو پوهنځی لپاره باید په کانکور کې د عربي ژبې پوښتنې هم راشي.

په سرور کې باید ټیمپلیټونه اضافه شي چې د موضوع د ارزښت سره سمې پوښتنې غوره او د ازموینو د ګډونوالو ترمنځ یوازې یو ډول ارزونه وشي، د مثال په توګه د ازموینې لپاره پوښتنې په تصادفي توګه انتخابېږي، زیاتره وخت له یوې موضوع څخه پنځه پوښتنې راځي، خو له بلې موضوع څخه هېڅ پوښتنه نه راځي، نو د دې لپاره چې د هر مضمون د ټولو برخو څخه پوښتنې جوړې شي، باید د مضمون ټیمپلیټ ور اضافه شي، مثلا د ریاضي په برخه کې په یو فورم کې د انتیګرال پنځه یا زیاتې پوښتنې راځي، خو په همدې ورځ په بل فورم کې د انتیګرال یوه پوښتنه راځي یا حتی یوه پوښتنه هم نه راځي، چې په دې ډول سره عدالت نه پلی کېږي. د کانکور ازموینې لپاره باید وخت زیات شي، کوم وخت چې اوس مهال د ازموینې لپاره ټاکل شوی بس نه دی او ګڼ زده کوونکي په ازموینه کې له ستونزو سره مخ کېږي همدا راز د ازموینې د پوښتنو شمېر باید کم شي. هغه استادان چې د ازموینې په ورځ ګمارل کېږي د هغوی لپاره باید له ازموینې وړاندې د ازموینو د بهیر څرنګوالي او د ازموینو په بهیر کې له ګډونوالو سره د چلن په اړه یو روزنیز پروګرام ترتیب شي، چې د ازموینې پرمهال زده کوونکو ته د روحي فشار لامل نشي؛ د محصلینو سره پوره همکاري وشي او د هرې څانګې د ارزښت په اړه ورته لنډ معلومات ورکړي.

د کانکور ازموینو د پراختیا او سمون په موخه اړینه ده چې تقنیني اسناد پر خپل وخت جوړ او پلي شي، که څه هم کانکور په تېره یوه لسیزه کې خورا زیات پرمختګ کړی خو د قوانینو په برخه کې پاموړ کار نه دی شوی، مثلا که یوځوک د نوملیکنې پر وخت، د ازموینې پر مهال یا وروسته له هغې کوم جعل او تزویر کوي، جزا یې روښانه نه ده هغه برخې چې د ګډونوالو حق پکې تلف کېږي، د تقنیني اسنادو جوړېدو ته یې باید پوره پاملرنه وشي، کېدای شي جعل او تزویر ډېر اړخونه ولري، ولې هر یو یې باید ټاکلې جزا ولري، د بېلګې په توګه په لاندې حالتونو کې جزا په پام کې نه ده نیول شوې:

1. ګډونوال د نوملیکنې پرمهال قصدا خپل شهرت ناسم درج کوي.
2. ګډونوال د نوملیکنې پر مهال پر فورمه غلط عکس لګوي.
3. د پوهنې وزارت په تېروتنې سره د یوه ګډونوال ناسم شهرت تاییدوي.
4. د کانکور اداري کارمندان د فورمونو د ثبت پرمهال تېروتنه کوي.
5. ممتحن استاد د ازموینې پرمهال تېروتنه کوي.
6. ګډونوال په لوی لاس د ازموینې بهیر ته ټیلیفون وړي.
7. ګډونوال پر خپل ځای بل څوک امتحان ته لېږي.

**پایلې**

له پورتنیو معلوماتو څخه دې پایلې ته رسېږو چې د کانکور ازموینو پر وړاندې داسې ستونزې او ننګونې شته چې د کانکور ازموینو اغېزمنتوب‌یې راکم کړی او په سمه توګه ګټوونوال نشي ارزولای. د کانکور یوه مهمه ستونزه له علمي برخې سره تړاو لري، په علمي برخه کې باید لازم بدلونونه راشي، ځکه که په یاده برخه کې بدلون رانشي، د وخت په تېرېدو سره علمي سویه راټیټیږي او هغه ډول چې پکار ده، د زده کوونکو زده کړې د هېواد په پرمختګ کې اغېزناک رول نشي لوبولای.

د ازموینو ادارې تخنیکي برخه هم ستونزې لري چې اړین بدلونونه باید پکې راشي، ځکه روانه پیړۍ د تکنالوژۍ پیړۍ ده، په دې برخه کې هر کال، هره میاشت او هره ورځ بدلون رامنځته کېږي.

د ازموینو ملي اداره د بنسټونو په برخه کې هم یو لړ ستونزې لري، د انلاین ازموینو لپاره اړینې اسانتیاوې نه لري، همدا راز د سترو ازموینو د اخیستو لپاره مناسب او معیاري تالارونه نه لري. د اړینو تقنیني اسنادو نشت د کانکور ازموینو پر وړاندې یوه بله ستره ستونزه ده چې د حل په موخه‌یې باید کوټلي ګامونه پورته شي.

اداري برخه هم د کلیدي برخو څخه ده چې هر کار بشري ځواک ته اړتیا لري او بې له هغې ناممکن دی چې سرته دې ورسیږي.

**وړاندیزونه**

1. د پوهنې وزارت باید په نصاب کې لازم بدلونونه راولي.
2. د ازموینو ملي ادارې د پوښتنو بانک سیستم باید په پرمخ تللو وسایلو سمبال شي.
3. د کانکور اداره دې د پوښتنو برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د هرې برخې ارزښت ته په کتو سره باید پوښتنې جوړې شي، یعنې هر مضمون باید د موضوعاتو ته په پام سره په څو ټمپلیټونو وویشل شي.
4. د کانکور یوه بله ستونزه د اړینو تقنیني اسنادو نشت دی چې له امله‌یې ځینې مهال چارې ټکنی کېږي، د دې مسئلې د حل په موخه باید اړین تقنیني اسناد رامنځته شي.
5. کانکور اداره باید انلاین سرورنه ولري، چې وکولای شي، په ازموینه کې معلوم کړي چې کوم برحال محصل د کوم زده کوونکي پرځای ازموینه ورنکړي او علاوه له دې نه د عامه پوهاوي لپاره کوټلې ګامونه واخلي چې زده کوونکي د کانکور ازموینې پرمهال د کومې ستونزې سره مخامخ نشي.

6. د لوړو زده کړو وزارت دې د پوهنتونونو ټولې علمي څانګې تعريف او په اړونده سايټونو او ټولنيزو رسنيو کې دې خپرې کړي، چې د هېواد ټول وګړي او په څانګړې توګه فارغان يې په سمه توګه وپېژني او په غوراوي کې يې دقيق فکر وکړي.
7. د لوړو زده کړو وزارت دې د کار او ټولنيزو چارو وزارت او نورو اړونده ادارو سره په همغږۍ په هره علمي څانګه کې د کار د بازار له اړتيا سره سم د محصلينو د جذب ظرفيت په پام کې ونيسي.

## سرچینې

بازرگان، عباس و فراستخوا، مقصود. (۱۳۹۶). نظارت و ارزشیابی در آموزش عالی. چاپ دوم. تهران: انتشارات سمت.
بازرگان، عباس. (۱۳۹۵). ارزشیابی آموزشی. تهران: انتشارات سمت.
خپلواک، محمد طاهر. (۱۳۹۸). روزنیزه ارزونه. دویم چاپ. کابل: سلېمان ماکو خپرندویه ټولنه.
خپلواک، محمد طاهر. (۱۴۰۰). سنجش و ارزیابی تربیتی(اصول، مفاهیم و الگوهای کاربردی). کابل: انتشارات سلیمان ماکو.
رؤف، عطاالله. ( 1382) ارزیابی تربیتی. طبع دوم. کابل مطبعه عمرزی.
سیف، علی اکبر. (۱۳۹۱). اندازه گیری، سنجش و ارزشیابی آموزشی. ویرایش ششم. تهران: نشر دوران.
سیف، علی اکبر. (۱۳۹۱). سنجش فرآیند و فرآورده یادگیری(روشهای قدیم و جدید). چاپ پنجم. تهران: نشر دوران.
لطف آبادي، حسین. (۱۳۷۵). سنجش و اندازه گیری در علوم تربیتی و روانشناسی. تهران: انتشارات سمت.
مقرره کانکور- وزارت تحصیلات عالی سال ۱۳۹۶.